# افغانستان

افغانستان په ۲۰۱۴ کال کې له نویو بې ثباتیو سره مخ شو چې پر بشري حقونو یې مهمې اغیزې درلودې. د ۲۰۱۴ کال د جون په میاشت کې د جمهوري ریاست د ټولټاکنو وروستی پړاو هغه وخت له سیاسي خنډ سره مخ شو چې دواړو نوماندانو اشرف غنی او عبدالله عبدالله د بریا ادعا وکړه او پر یو بل یې د درغلیو تورونه ولګول. د سپتمبر پر ۲۱مه بیا دواړو یوه موافقتنامه لاسلیک کړه چې له مخې یې غني د ولسمشر او عبدالله عبدالله د اجرایي رئیس په توګه وټاکل شول . له مخالفتونو ډکو ټاکنیزو سیالیو او د میاشتو میاشتو اوږد ځنډ د یوې دوامداره بې ثباتۍ ویره راوټوکوله او د سیاسي معاملې پر موادو له ځنډه ډک اختلاف د کابینې جوړول له خنډ سره مخ کړل.

د سیاسي انتقال په جریان کې ناڅرګندتیا چې د طالب یاغیانو له خوا زیاتیدونکی فشار هم ورسره ملګری دی، د هیواد په ګوډ ګوډ کې یې بشري حقونو ته د درناوي په راکمیدو کې مرسته کړې چې د امنیتي ځواکونو له خوا د ترسره شویو تیریو لپاره معافیت، د ښځو حقونو او بیان آزادي ته ګواښ او له توپیر پرته بریدونه یې هغه بیلګې دي چې د ملکیانو د وژنې لامل وګرځیدل.

په داسې حال کې چې د ۲۰۱۴ کال په پای کې د نړیوالو سرتیرو د وتلو لپاره چمتوالی روان دی او زیاتره سرتیري له وړاندې وتلي دي او یا په نظامي اډو کې منزوي شوی حالت لري. د اورپکو له خوا پر یو شمیر ولسوالیو د دوامداره بریدونو له کبله افغان امنیتي ځواکونو د جګړې په ډګر کې ګڼ تلفات ورکړي دي. ملکیان اوس هم د ناوتریخوالي ناوړه اغیزې ګالي. ملګرو ملتونو د ۲۰۱۳ کال په پرتله د ۲۰۱۴ کال د شپږو لومړیو میاشتو په ترڅ کې د ملکیانو تلفات ۲۴ سلنه زیات ثبت کړي چې زیاتره یې د اورپکو د بریدونو په پایله کې رامنځته شوي دي.

## ټولټاکنو پر مهال ناوتریخوالی او پر ملکیانو بریدونه

د کال په پیل کې طالبانو پر چاروآکو او هغو کارکوونکو بریدونه چټک کړل چې د ولسمشریزو ټولټاکنو سره یې تړاو درلود او په ځنګ کې یې نور ملکیان او بهرنیان د هدف لاندې ونیول. د جنوري د میاشتې په ۱۷مه د کابل پر یو ریستورانټ، لا تویرناLa Taverna، د برید په پایله کې ۲۰ کسان ووژل شول چې ۱۳ یې بهرنیان او ۷ یې افغانان وو. طالبانو د دې برید پړه پر غاړه واخیسته او پر ریستورانټ د برید لامل یې دا وښود چې د بهرنیان د تګ راتګ له کبله مشهور وو. د مارچ پر ۲۱مه توپکوالو د کابل په مرکز کې د کلکو امنیتي تدابیرو سره سره د سرینا د هوټل پر خوړنځاي برید وکړ او ۹ کسان یې ووژل. په وژل شویو کې د فرانس پریس آژانس خبریال سردار محمد، د هغه میرمن او دوه ماشومان شامل وو. د یاد خبریال بل ځوی ژور ټپونه اخیستي وو.

د مارچ په ۱۱مه طالبانو د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره لوړه وکړه چې خپل ټول زور به وکاروي څو د رايې اچونې د بهير د ګډوډولو تر څنګ ټول کارکوونکي، فعالان، رابلونکي، امنيتي اداري او دفترونه تر هدف لاندې ونيسي. په دې ترڅ کې د تاوتريخوالي په رامنځته شويو پېښو کې د ټولټاکنو د کارکوونکو تښتونې، د کمپاين پر غونډو او د کانديدانو پر کارکوونکو او دفترونو بريدونه شامل وو. د ټولټاکنو پر مهال د بريدونو په ترڅ کې طالبانو د ۴۰ ملکيانو د وژلو تر څنګ لږ تر لږه ۱۰۰ کسان ټپيان او په هرات کې يې د هغو ۱۱ کسانو ګوتې غوڅې کړې چې د جون د مياشتې پر ۱۴مه يې په رايه اچونه کې برخه اخيستې وه.

## شکنجه، صحرايي محاکمې او جبري پټونې

د حکومت د امنيتي ځواکونو له خوا ترسره شويو تيريو پر وړاندې معافيت اوس په يو نورم بدل شوی دی. د قندهار پوليس په ځانګړې توګه د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې د ملګرو ملتونو، بشري حقونو د ډلو او ژورناليستانو له خوا په خپرو شويو ګڼو راپورونو کې د شکنجې، ناقانونه اعدام او په زوره د شړلو په څېر جرمونو تورن شوي دي. د حضرت علي په نامه توقيف ځاي کې د يوه ۲۳ کلن نل جوړونکي شکنجه او وژل کيدل، چې د نيويارک ټايمز په يو راپور کې هم چاپ شوي وو، د کورنيو چارو وزير عمر داودزي يې د پلټنو ژمنې ته وهڅاوه، خوددې راپور تر ليکلو پورې هيڅ پايلې نه دي اعلان شوي.

په ۲۰۱۳ کال کې د حکومت له خوا د شکنچې او ناوړه چلند د تورونو له څېړلو سره سره د افغانستان د امنيتي ځواکونو يو غړی هم په دې کال کې محاکمه نشو. له راپورونو سره سم د قندهار پوليسو لږ تر لږه ۴ پټ زندانونه درلودل چې د ملګرو ملتونو سياسي دفتر (يوناما) او د سره صليب نړيوالي کميټې (ICRC) هيڅ لاسرسی نه ورته درلود.

د پوليسو او اردو يو شمير لوړپوړو چارواکو يوه داسې بيانيه خپره کړه چې د زندانيانو په توګه د نيول شويو طالبانو د ساتلو خلاف روحيه يې له ورايه څرګنده وه او په دې دليل چې خوشې شوي بنديان بيا په جګړه کې برخه اخلي د حکومت پاليسي يې پر فساد تورنه کړه. د جون په مياشت کې د قندهار امنيه قوماندان بريد جنرال عبدالرازق ويل چې خپلو پوليسو ته يې د جګړې په ډګر کې د ټولو طالبانو د وژنې امر کړی دی. وروسته بيا عبدالرازق دا بيان بيرته واخيست. ولسمشر حامد کرزي د خپلې ولسمشرۍ د دورې تر پايته رسيدو وړاندې عبدالرازق ته د درې ستوري جنرال ترفيع ورکړه. د کندوز د امنيې قوماندان مصطفی حسيني هم د عبدالرازق د نظر په تايدولو سره ويل چې پوليس د نيول شويو ياغيانو له وژلو پرته بله چاره نه لري، دا ځکه چې دوی په يوه فاسد عدلي سيسټم کې په اغيزمنه توګه نه محاکمه کيږي. د آګست پر ۲۳مه د افغانستان د ملي اردو د پياده ځواکونو قوماندان جنرال مراد علي مراد هم له نړيوالو قوانينو څخه په څرګنده سر غړونې سره اعلان وکړ چې نيول شوي طالبان دې ژوندي نه ساتل کيږي.

له ۲۰۱۳ کال راپديخوا افغان چارواکو سلګونه بنديان د بګرام له زندانه خوشې کړل چې په فيبروري کې خوشې شوي هغه ۶۵ کسان هم په کې شامل وو چې د امريکا د متحده آيالاتو نظاميانو يې هم په تړاو نيوکه وکړه چې دا کسان ګواښ پيښولی شي. د آګست او سپتمبر په مياشتو کې امريکا له بګرام څخه د يمن دوه وګړي او ۱۴ پاکستاني بنديان خوشې او خپلو هيوادونو ته وليږل.

په ۲۰۱۴ کال کې د پولیسو له خوا د ترسره شویو تیریو پر وړاندې معافیت د ملکیانو پر وړاندې نوي جنایتونه وهڅول: مینه انتظار چې یوه شاعره ده  د اپریل په میاشت کې یې ادعا وکړه چې د عبدالودود سرحدي جاجو په نامه د قوماندان عبدالرازق د یوه معاون له خوا د جنسي تیري د تهدید تر څنګ د هغې په ګډون د کورنۍ د نورو غړو د وژنې تر ګواښ وروسته یې له قندهار څخه پښې سپکې کړې دي. دا ګواښ د هغې دوسيې له ثبتولو وروسته وشو چې د جاجو ځواکونو د هغې پر کور د یو چپاو په ترڅ کې د نوموړې له کوره برقي لوازم، ګاڼې او پیسې وړې وې. جاجو وړاندې هم پر جنسي تیریو تورن شوی وو خو هیڅکله نه دی محاکمه شوی. د مې په میاشت کې جاجو د یوه ځانمرګي برید په ترڅ کې ووژل شو.

د افغانستان محلي پولیس چې د سیمه ییزې دفاع د ځواکونو یوه شبکه ده د افغان حکومت په مرسته د امریکا د نظامیانو له خوا جوړ شول – د پرله پسې صحرایي محاکمو په ګډون د بشري حقونو پر وړاندې پر سختو تیریو تورن دي. د آګست په میاشت کې د قندهار په ژیړۍ ولسوالۍ کې د طالبانو پر وړاندې د عملیاتو پر مهال د جنرال عبدالرازق تر قوماندې لاندې د محلي پولیسو یوې ډلې شپږ کوچیان له طالبانو سره د کار کولو په تور تر نیولو وروسته اعدام کړل. د جون په میاشت کې قوماندان عبدالله درې کلیوال د اندړو په ولسوالۍ کې د طالبانو سره تر جګړې وروسته په ناقانونه ډول اعدام کړل. د ملګرو ملتونو د سیاسي دفتر یا یوناما په وینا د دې راپور تر لیکلو د دې وژنو په بدل کې له هیچا سره حساب کتاب نه دی شوی.

**د ښځو حقونه**

په ۲۰۱۴ کال کې د ښځو حقونه تر ګواښ لاندې وو. د جنوري په میاشت کې د افغانستان د جزا د قانون یوه ماده د هغو هڅو د لړۍ وروستۍ کړۍ وه چې غوښتل یې د ښځو او نجونو د قانوني ملاتړ لپاره چمتو شوی له وړاندې کمزوری قانون بیرته له منځه یوسي. دا قانون چې د پارلمان له خوا تصویب شو، د مسودې ۲۶مې مادې د تورن خپلوان د هغو کسانو په لیست کې شامل کړي وو چې د جزا او محاکمې پر مهال به د شاهدانو په توګه نه وړاندې کیږي، له دې کبله یې د هغو کسانو د محاکمو د دوام هڅه شنډه کړې وه چې په سیمه ییزه کچه یې تاوتریخوالی رامنځته کاوه. د فیبروري په پای کې، ولسمشر حامد کرزي قانون لاسلیک کړ خو ۲۶ ماده یې د هغه فرمان په مرسته تعدیل کړه چې د تورن خپلوانو ته یې پخپله خوښه د شاهدۍ ورکولو اجازه ورکوله. همدارنګه دې تعدیل شوې مادې د جنایت په اړه د کوم یوه عارض او یا مخبر اجباري شاهدي ته هم اجازه ورکړه او د خپلوانو تعریف یې هم یو څه محدود کړی دی. خو دا تعدیل شوې ماده بیا هم د کورنۍ ګڼو غړو ته د شاهدانو امتیاز ورکوي.

د جون په میاشت کې حکومت د ملګرو ملتونو د غړو هیوادونو هغه سپارښتنې رد کړې چې د اخلاقي جرمونو لپاره د ښځو محاکمه کول له منځه  یوسي. په ۲۰۱۴کال کې د ښځو د حقونو لپاره بل ناوړه پرمختګ د لوړ رتبه ښځینه چارواکو په ګډون پر ښځینه پولیسو او فعالانو بریدونه، ګواښونه او وژنې وې چې په ځواب کې یې حکومت د دې ګواښونو پر مهال د هغو تدابیرو په چمتوالي کې پاتې راغی چې ښځې د خطر پرمهال وژغوري. په ۲۰۰۹ کال کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي پر ضد جوړ شوی قانون د پلي کوونکو له خوا په داسې حال کې تطبیق شو چې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی روان او ګڼې قضیې یې موجودې وې چې دا قضیې یا له نظره وغورځول شوې او یا د هغو خواوو په واسطه د منځګړیتوب له لارې حل شوې چې په محکمې کې یې له حاضریدو ډډه کوله.

خو له نیکه مرغه، د ښځو د حقوقو فعالانو د خپلو زحمتونو او پرله پسي دفاع له لارې وشو کولی چې د ښځو د حقونو بحث د ټولټاکنو په پروسه کې شامل کړي. په دې کار کې د افغانستان د ښځو شبکې بریالۍ هڅې وې چې دویم پړاو ته د تلونکو نوماندانو هر یوه اشرف غني او عبدالله عبدالله لاسلیکونه یې د هغو ۳۰ سپارښتنو څخه د ملاتړ لپاره واخیستل چې د ښځو له حقونو ملاتړ کوي. د افغانستان د ښځو شبکې او د هغې د غړو ادارو په پلان کې ده چې له نوي ولسمشر سره دا مسئله تعقیب او د هغه توافق ترلاسه کړي.

## انتقالي عدالت

د کال په پیل کې دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون ولسمشر حامد کرزی ته په ۸۰۰ مخونو کې هغه راپور وړاندې کړ چې په افغانستان کې یې د کمونیزم له دورې راپدیخوا جنګي او بشر ضد جنایتونه کښلي دي. دا راپور چې د ۲۰۱۱ کال په دسمبر میاشت کې بشپړ شوی دی باید د راتلونکو ګامونو لپاره یې لار پرانستلې وای او هغه څوک یې محاکمه کړی وای چې په تیرو تجاوزونو کې یې لاس درلود. ولسمشر کرزي هغه غوښتنې رد کړې چې راپور باید په عامه توګه خپور شي. که څه هم اشراف غني د ټولټاکنو له ګټلو وړاندې د راپور د خپرولو ژمنه کړې وه خو د دې راپور تر لیکلو پورې کوم پلان شوی تاریخ نه دی اعلان شوی.

## د بیان او احزابو آزادي

د رسنیو او احزابو لپاره د بیان د آزادۍ او د سیاسي احزابو آزادي چې له ۲۰۰۱ کال څخه راپدیخوا د بشري حقونو په برخه کې د افغانستان تر ټولو ستره لاسته راوړنه بلل کیږي په ۲۰۱۴ کال کې له سختو ګواښونو سره مخ شوه.

د دوه باوري افغان رسنیزو ټولنو، نی (چې د آزادو رسنیو ملاتړ کوي) او د افغان ژورنالستانو د ژغورنې کمیټې د ۲۰۱۴ کال په شپږو لومړیو میاشتو کې پر ژورنالستانو ۶۸ بریدونه ثبت کړي دي، په داسې حال کې چې د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۴۱ دا ډول پیښې ترسره شوې وې. دې رسنیزو ادارو د ۶۳ سلنه بریدونو او ګواښونو نسبت د افغانستان امنیتي ځواکونو او حکومتي مقاماتو او نږدې ۱۲ سلنه پیښو نسبت اورپکو ته او پاتې بریدونو نسبت یې نورو ځواکمنو څیرو او نامعلومه سرچینو ته کړی دی. د دې بریدونو په قربانیانو کې د نیویارک ټایمز یو خبریال هم شامل وو چې د ۲۰۱۴ کال د جنوري پر ۲۳مه نیټه د نامعلومو بریدګرو له خوا د هلمند په ولایت کې ووژل شو. بهرني ژورنالستان هم د بریدونو قرباني وو؛ د مارچ په ۱۱مه یو نامعلوم وسلوال په کابل کې نیلز هورنر Nils Horner ووژاه چې یو سویډنی ژورنالیست وو، او د اپریل پر ۴مه نیټه په خوست کې یوه پولیس آنیا نیدرینګ هاوس AnjaNiedringhaus چې یوه عکاسه ژورنالیسته وه ووژله او د اسوشیټډ پریس خبریاله کتي ګانون Kathy Gannon یې ټپي کړه. دوی دواړو د اپریل د ۵مې نیټې ولسمشریزو ټاکنو په اړه راپور چمتو کاوه.

د مې په ۲۳مه نیټه ویکي لیکس په ډاګه کړه چې د امریکا د ملي امنیت ادارې (NSA) په افغانستان کې په ډله ییز ډول ټیلیفوني غږونه ثبت کړي دي چې لمن یې په امریکا کې د ملي امنیت له خوا د هویت په اړه د ثبتونکي جنجالي پروګرام څخه ډیره پراخه ده. د ویکي لیکس معلوماتو ته په پام سره د ۲۰۱۳ کال څخه

راپېدیخوا د امریکا ملي امنیت اداری د ژورنالیستانو په شمول نړدې ټولې تلیفوني مکالمې ثبت کړي او زیرمه کړي دي.

**کډوال او د هیواد دننه بې ځایه شوي کسان**

سختو جګړو د افغانستان په ګوټ ګوټ او په تیره بیا د هلمند او قندوز په ولایتونو کې په زرګونه خلک بې ځایه کیدو ته اړ کړي دي. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنری (UNHCR) د ۲۰۱۴ کال له جنوری څخه تر سپتمبر میاشت پورې د هیواد دننه بې ځایه شوو په شمیر کې د څه د پاسه ۳۸۳۴۰ کسانو زیاتوالی ثبت کړی دی چې له دې سره د بې ځایه شویو کسانو ټولټال شمیر ۷۵۵۰۱۱ ته رسیږي. د دې بې ځایه کیدنو اصلي لامل وسله والې جګړې او د امنیت نشتوالی وو.

ناوړه امنیت او د راتلونکي په اړه زیاتیدونکي ویرې ګڼ شمیر افغانان اړ کړي چې خپل کورونه پریږدي او نورو هیوادونو کې پناه واخلي او یا له بهرنیو هیوادونو څخه بیرته رانشي. د هغو افغانانو شمیر هم لوړ شوی دی چې له هیواده بهر پناه غواړي چې ځیني د ایران د غرونو له لارې اروپا او یا د بیړیو له لارې استرالیا ته خطرناکه سفرونه کوي. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرئ یه وینا له ګاونډیو هیوادونو څخه د راستنیدونکو کډوالو شمیر هم لویدلی دی.

هغه افغانان چې نورو هیوادونو ته رسیږي له سختو ستونزو سره مخامخ کیږي چې له منځه یې د استرالیا د حکومت له سختیو ډکې پالیسۍ له مخې پناه غوښتونکي یوه دریېم هیواد ته لیږل کیږي. او د برطانیې او ناروې په ګډون نورو اروپایي هیوادونو او دولتونو دریځ اوس دا دی چې بې وارثه افغان ماشومان بیرته افغانستان ته ستانه کړي. څو میلیونه افغانان چې په ایران کې میشت دي په پرله پسې ډول د توپیر او ناوړه استفادې ښکار دي.

**نړیوال کلیدي همکاران**

له افغانستان سره په اړیکو کې د زیاترو هغو هیوادونو نړیوالې خپلمنځې ستونزې چې د ځواکونو په لیږلو کې یې مرسته کړې او یا یې د ۲۰۰۱ کال را وروسته د پام وړ مالي مرسته کړې – په ځانګړي ډول د امریکا متحده ایالاتونه چې تر ټولو زیاته نظامي او مالي مرسته یې کړې ده – د بشري حقونو د درناوي په تړاو او په تیره بیا په هغو سیمو کې چې امنیتي ځواکونه د ښځو له حقونو سرغړونه کوي، پر افغان حکومت سیاسي فشار راکم کړی دی.

په داسې حال کې چې ګڼ شمیر هیوادونه له افغانستان سره د مالي مرستو لا زیاتې ژمنې کوي، سیاسي ښکیلتیاوې په چټکۍ سره خپل رنګ له لاسه ورکوي او مرسته ورکوونکي د خپلو مرستو زیاتره برخې بیرته راکموي. د اکتوبر په میاشت کې ولسمشر غني د امریکا له متحده ایالاتو سره یو دوه اړخیزه امنیتي تړون لاسلیک کړ چې له ۲۰۱۴ کال وروسته د ناټو د نظامي حضور د ونډې په تعینولو کې مهم ګام بلل کیږي.

د نړیوالې جنایي محکمې څارنوالان چې له ۲۰۰۷ کال راهیسې د مهمو نړیوالو جنایي تورونو په لټه کې دي د لومړنی تحلیل په محتویاتو کې یې د رضایت تر څنګ د حساب ورکونې په برخه کې د دولت له خوا ترسره شوي کړنې اغیزمنې بللې دي.